# د رحمت الله درد په شاعرۍ کښې ترقي پسند عناصر

# PROGRESSIVE ELEMENTS IN THE POETRY OF REHMATULLAH DARD

Issn 2304-1463

Hikmat Yar*
hikmatyarburki@gmail.com

**Abstract:**

Rehmatullah Dard is a renowned modern Pashto poet, particularly recognized for his distinctive style in Ghazal poetry. He infused Pashto Ghazal with a simple, colorful, soft and melodious tone. His poetic diction reflects a blend of classical and modern elements. While much of his poetry revolves around traditional themes of flowers and nightingales, he also addresses many societal issues that align with progressive ideologies. This article highlights some progressive aspects of his poetry, such as social realism, purposefulness, and revolutionary thought.

In terms of subject matter, Rehmatullah Dard's poetry touches on social consciousness and issues like class inequality, freedom of thought and expression resistance, justice, humanity, war, peace, and the impact of war on the Pashtun social environment and collective behaviors. He did not remain silent on these topics.

Within the frame work of Pashto and Islamic values, Dard expressed deep concern for humanity. He advocated for using the light of Islam to navigate through life's dark paths and upheld the rights of the weak and oppressed. This compassionate concern for humanity was a significant part of his progressive outlook. Despite his progressive thinking, Dard remained a staunch advocate of eastern literature and did not align himself with communication or other political ideologies.  His progressive were focused on the betterment of humanity. Dard did not seek to "bring God down from the heavens" but rather aimed to dethrone tyrants and dictators. While he embraced new ideas and scientific thought, he never rejected Islamic ideas and scientific thought, he never rejected Islamic values. The poet of flowers and nightingales appreciated the beauty of dewdrops or petals and the sweat on a labor brow, yet he never justified the humiliation of a women forced into prostitution.

Rehmatullah Dard wielded the sword of social consciousness against authoritarianism, superstition, ignorance, and poverty. In his work, he skillfully

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar, Khyber Pakhtunkhwa

addressed these themes without abandoning his progressive ideals; he sometimes applied direct and romantic expressions, at other time symbolic or fiery tones.
**Keywords:** Rahmat Ullah Dard, Pashto, Poet, Distinctive, style, Ghazal, Classic, Modern, Elements, Progressive, Ideologies, Social issues, Inequality, Freedom, Resistance, Collective behaviors

دا یو ستر حقیقت دے چې ترقي پسند ادب د ځان سره یوه ستره ادبي نظریه یعني:"ادب د ژوند د پاره" راوړله ، چې مقصــد ئې ادب د ژوند د جمالیاتي اړخونو نه بېلول او هغو اړخونو ته ور تر غاړه وتل وو چرته چې "ژوند" اســتوګنه کوي - څو پورې چې د ترقي پســند ادیب او ادب تعلق دے نو که چرته فن "د پاره د ژوند" د فکر او نظرئې پلوي وي نو ترقي پسند به بلل شي - (۱)

د ترقي پسند ادب درې بنیادي اجزاء دي،دې کښې لومړے هغه چې فکر ئې په جدلیاتي مادیت استوار دے چې د فلسفې متعلق دے دوېم پړاو ئې سماجي حقیقت نګاري ده او دریم او اخرنے منزل ئې انقلابیت دے -(۲)

ټولنیزه حقیقت نګاري ادبي اصطلاح ده، په تخلیق کښې د ژوند رښتونے تصویر سازول حقیقت نګاري ده - دغه حقیقي او رښتونے تصویر د مقصدیت سره تړلے دے ـ د رومانیت غوندې مقصدیت هم د یو باقاعده تحریک په توګه غزونې کړې دي ـ د رومانیت او کلاسیکیت د ډغرې په شــان مقصــدیت هم د رومانیت په تقابل کښــې رامخې ته شــوے دے ، په مقصــدیت کښــې مباحثې د مقصد او حقیقت سره تړلې وي او په هم دغه اساس ورته د حقیقت نګارۍ تحریک هم وئیلے شي -(۳) په مقصدیت کښې د بنیادي ډغرې او مخالفت اساس دا وۀ چې ادیبان دې خیالات د اســمان نه زمکې ته رانښــکته کړي، ځکه چې معاشــرې ته د خیالي خبرو په ځاے د ځکمني حقیقتونو ترجماني پکار وه - (۴)

د فکري رجحان په اســاس د رحمت الله درد د غزل ځولۍ یوازې د عاشــق او معشــوق، مینې، محبت او د ګل و بلبل د تصوراتو نه نۀ ده ډکه کړې، بلکې د ټولنېز تضاداتو او د محرومو طبقاتو د مظلومیت په لور ئې هم مخ اړولے دے - د دوي په غزلو کښــې د غم دوران سره تړلي ډېر داسې موضوعات په نظر راځي چې د ترقي پسند فکر وکالت کوي ،د درد د ترقي پسند فکر په دغه موضــوعاتو کښــې طبقاتي ناهمواري ،فکري ازادي ، ټولنیز شــعور و حقیقت نګاري او مقصدیت داسې عناصر دي چې دۀ د غزل په میراث کښې برخه ورکړې ده -

درد په ترقي پسندۍ کښې هم خپل روماني ساز نۀ دے هېر کړے. درد د پښتو او اسلامي اقدارو په ليکه کښې دننه د انسانيت غم ژړلے دے ، درد د ژوند په تيارو کښې د سفر د پاره د دين اسلام رڼا خوښه کړې ده - د درد ترقي پسند مزاج په ټولنه کښې د قوم ، قبيلې ،مذهب او وطن د تفاوت نه پرته د هرې طبقې سره د تعلق لرونکي کمزور او خوار انسانيت د حقونو علمبردار دے - د خپل ترقي پسند فکري رجحان وضاحت رحمت الله درد د "وفا" شعري مجموعې په مقدمه "زما صفحه" کښې ډېر په پرېکړې ډول کړے دے -

> "زۀ د مشرقي ادب مداح يم خو نۀ د کميونزم قائل يم نۀ د بل ازم - زۀ له اسمان نه خدا ے کوزول نۀ منم خو بادشاه يا امر له تخت کوزول غواړم - زۀ د نوي سوچ او سائنسي فکر قائل يم ، خو د اسلامي قدرونو نفي نۀ شم کولے - د جدت نه انکار نۀ کړم ، خو د روايت دشمن هم نۀ يم - اوس د لوستونکو مرضي ده چې ماته ترقي پسند وائي که روايت پرست ! ماته د ګل په پاڼو د شبنم قطرې ښائسته لګي خو د مزدور په مخ خوله هم ښائسته راته ښکاري - زۀ د خواري کښ عظمت منم خو د عصمت فروشې پېغلې ذلت ته هېڅ جواز نۀ شم تراشلے -"(۵)

د درد ترقي پسند فکري رجحان د ټولنيزې بې انصافۍ ،ناخوالۍ ،امريت ،سامراجيت ،جهالت ، وهم پرستي او د غربت خلاف په ټولنه کښې د شعور پېدا کولو زيار کوي - خلقو ته د خپلو حقونو احساس ورکوي - د سماجي مسائلو د عکاسۍ او د دغه شخړو د بيان د پاره رحمت الله درد کله بلواسطه او کله بلا واسطه لهجه او اسلوب په کار راوستے دے او د بلاواسطه اسلوب د اظهار د پاره ئې د علامت ژبه او اسلوب خپل کړے دے - عمرګل عسکر د درد په ترقي پسند فکر کښې د شلمې صدۍ د دې علامتي رجحان په توګه د درد صېب لاندېني شعرونه انتخاب کړي دي -

"غوټۍ وه حواس کښې نۀ ګل وو په جامه کښې
خطره د خزان درده یوازګي محسوسوله
د بل د پاره چمنونه کړو
خپله هغسې تش ډګر ګرځوو
خلقو ته درده رڼاګانې وېشو
موږ په سینه د ننه لمر ګرځوو" (۶)

ټولنیز شعور ، طبقاتي لرے برے ، د فکراو رائې ازادي، امن ، مزاحمت او انقلاب ته لاره هوارول د ترقي پسند فکر، ټولنیزې حقیقت نګارۍ او مقصدیت تر ټولو مهم موضوعي عناصر دي - رحمت الله درد په زړۀ او ذهن کښې د ټولنې درد لرونکے شاعر دے ، درد د کروندې ابیاري د زړۀ په وینو کړې ده - د معاشرتي ژوند له پاره ئې د محفوظې لار انتخاب ته د اولس پام راګرځولے دے ، ژوند او کردار ئې لازم ملزوم کړي دي - مطلب هر چاته ئې په ژوند کښې د کردار لوبولو دعوت ورکړے دے او دا حقیقت په ګوته کوي چې له کردار پرته وجداني ډاډ او تسلي د چا په برخه نۀ رسېږي - اروابښاد درد هم د خپل کردار په ډاډمنتیا قامونو ته په ښکاره ډول په شعوري لارې تګ ښودلے دے او د یو حده ئې د معاشرتي ژوند په څارلو د ژوند ناخوالې او ستړې ښودلې دي - (۷)

چې شعور دې راپېرزو کړو چې زۀ درد دې سترګه ور کړم
بیا دې ولې زۀ پیدا کړم د ړندو په ښاریه کښې
دا چې لږ غوندې رڼا ده شاعرانو ته دعا کړئ
څو ډېوې دي چې بلېږي د تیارو په ښاریه کښې (۸)

هغه د پښتو متل دے چې نیتې دې ژړوي او دښمن دې خنده وي - درد دا فکر په شعر کښې داسې ځاے کړے دے -

ناصحه ته به مې همدرد وې خو همدرد نۀ لګې
هغه قاتل به مې دښمن وي خو دښمن نۀ لګي (۹)

انسان اشرف المخلوقات دے او خاصه ئې دغه ده چې د عقل سره د شعور څښتن هم دے او انسان په سماج کښې ژوند کوي - تر څو پورې چې د سماجي شعور تعلق دے نو سماج یا ټولنه د افرادو د افرادو نه عبارت ده او په شعور لرونکو انسانانو مشتمله ده انسان خپل خاص قوت

اراده لري ، افرادي قوت لري او د خپلو مقاصدو تعین هم کوي او بیا د هغې د خپلولو د پاره کار کوي -

زۀ سترګه ور یمه شاعر یمه شعور لرمه
په درده زۀ به څنګه وکړم د ړندو ملګري (۱۰)

زمونږه په ټولنه کښې عموماً ملا صېب د واعظ کردار لوبوي او پښتانۀ چې څومره په پښتو مئین دي دومره په اسلام هم مئین دي جومات ، ممبر ، ملا ته په ټولنه کښې په مذهبي خاطر د احترام په نظر کتل شي. د رحمت الله درد ترقي پسند فکر هم د اسلام د یو اړخ سره ډغره نۀ خوري ، د مسلمان په حېث د آخرت او د عقبی فکر ته څوک هم بد نۀ شي وئیلې البته د دنیا او د دوران د فکر هم اسلام تاکید کړے دے. عموما واعظان صاحبان چې کله د اخرت په تقابل کښې د دوران او دنیا د غمونو نه د بې نیازۍ او د جنت د فکر تبصره کوي نو دلته درد صېب خپل فکر د ټولنې د عام وګړي غوندې نۀ دے ساتلے بلکې د ټولنیز سماجي شعور په رڼا کښې ئې د ملا او واعظ په تېروتنه ټکونه کړي دي.

ملګرو داسې نه چې تشه شاعري به کوو
دعویٰ به نۀ کوو خو کار د پېغمبري به کوو
واعظه مونږ به له دنیا نه جنت هم جوړوو
د اخرت سره سره غم د هستي به کوو (۱۱)

پروفېسر رحمت الله درد د هر دور د بې انصافۍ او فکري تشدد د حالاتو نه باخبره شاعر دے. د ګل او بلبل سره ئې د ژوند ترخۀ حقیقتونه هم په تلمیحاتي زاویه د خپل ردعمل سره لوستونکي ته رسولي دي - د تاریخي حقائقو سره څنګ په څنګ ئې د خپل دور د حالاتو سره د ماضي تړون د غزل په ژبه څرګند کړے دے - مونږ ګورو چې د ټولنې زورور قوتونه په ټولنه کښې هر هغه سړے په نخښه کوي چې په ټولنیز شعور کښې خپل کردار ادا کوي یا د خوار اولس د پرمختګ خبره کوي دا خیال درد په یوه قطعه کښې داسې بیانوي -

"که لږ د کار سړے وي قتل به شي
په خپلو سرو وینو کښې ډوب به دې کړي
ته که سقراط شولې نو زهر به څکې
که مسیحا شولې مصلوب به دې کړي"(۱۲)

زمونږ په پښتنه بیا خصوصا په قبائلي ټولنه کښې د دښمني ډول تربورولي هم ډېر رواج دے - خپل که د ښو ورځو او حالاتو ښتن وي که نۀ وي ،خو تربور ته ئي ښه ورځ نۀ لورېږي ، ډېر په رشته کښې د لرې یار دوست سره نېکي او ښۀ کول او د تربور د پاره بده ورځ زمونږ د معاشرې یو قسم نفسیاتي بیماري جوړه شوې ده - د قام په دې سماجي رویو باندې درد طنز کړے دے -

د تربور په سر قدم ږدوم پښتون یم

لېونے یم خپلوان پلورم پردي پېرم (۱۳)

سلیم راز د درد په کلیاتو په مقدمه کښې د "اوس به ځوک درد راځي نبي نه راځي" تر عنوان لاندې د دۀ د سماجي شعور متعلق زیاتوي چې :

"د درد غزل که هر څو د اردوغزل د کلاسیکي حیاتي سرچینې څخه قوت نمو موندلې ده، خو په خپل کلیوال ماحول کښې غزونو سره په خپل پښتني کلتوري چاپېرچل او عصري فضا کښې ئې ساه اخیستې ده او د نیمې صدۍ نه زیات سفر ئې کړے دے - د درد یو وصف دا دے چې د خپل کلیوال ماحول او او پښتني ادبي سماجیات د دائرې نه بهر نۀ دے وتلے ، بل درد د خپل عصر د غوښتنو او سماجي سیاسي مسائلو شعور او اګهي لري ، لکه چې وائي :

د نوي دور له تقاضو خبر یم

ځکه خو تخت نۀ منم تاج نۀ منم" (۱۴)

پښتانۀ په پښتو مړۀ دي-داسې ډېرې محاورې مونږه اروو ، چې پښتو اسلام دے او اسلام پښتو ده ، خو بیا هم په پښتنه ټولنه کښې د انساني حقونو په لړ داسې رواجونه شته چې هغه د اسلامي او مهذبو اقدارو نفي کوي د چا په خور په لور باندې د غږ کولو ناوړه رسم ، په سوره کښې خور لُورچاته ورکول،په جائیداد کښې خوېندو لوڼو ته برخه نۀ ورکول ،د ضد ،انا او جائېداد تنازعې په سبب په کالونو کالونو ،جنګونه ،بدۍ او مرکې کول ،داسې رواجونه عموما د غېرت ، پښتو او خوداري سره تړلي شوي وي دي-رحمت الله درد د پښتنې ټولنې دا اړخ هم ډېر په واضحه او کوټلي ډول غندلے دے -

نۀ پښتو ده نۀ خودي ده نۀ غېرت د ے

پښتانۀ چې پرې غره دي جهالت د ے (۱۵)

ازادي يو ارت مفهوم او پراخه دائره لري لکه د وطن او ملک ازادي او دغسې سياسي ، معاشي ، کلتوري ازادي او داسې نور - په دې هکله ډاکټر محب وزير داسې نظر د ے چې د رائې او فکري آزادي پسندو شاعرانو غټه خاصه هم دغه وي چې د غزل د لوستو سره ئې په مستقبل يقين جوړېږي او په ماضي عقيده کمزورې کېږي ـــ خو رحمت الله درد په دغه باب محتاط پاتې شوے د ے ،البته د بنياد پرستۍ د داغ نه ئې هم ځان ژغورلے د ے - دوي که ترقي پسند نۀ هم دي ،ولې کله نه کله ئي داسې سائنسي ، سماجي فکر ته هم هر کلے کړے چې د دوي د سوچ او فکر سره زيات مطابقت نه لري - درد په زړو اقدارو پسې ويرونه نۀ دي کړي ـــ خو په سماجي ارتقاء پوهه د ے او دا تسليموي چې د وخت او مختلفو علومو د پرمختګ سره په اقدارو او رواياتو کښې هم بدلون راځي - درد صېب د فکر او رائې د ازادۍ په هکله وائي چې :

اوس هغه زاړۀ قدرونه مه غواړه

تاته پته نۀ وه چې بدلېږي وخت "(۱۶)

ټولنيز قوتونه د پرمختګ د مخ نيوي د پاره مدام په نوو څيزونو پابندي لګوي ،ځکه چې دا قوتونه د ترقۍ په نوي دور کښې خطره محسوسوي - درد دا خبره معمولي يادوي ، خو درد صېب په اصل کښې په دا پوهه د ے چې دا معمولي خبره نۀ ده , د ټول جهان د خفه کولو احساس ورسره شته - د پابنديو دغه لړۍ ته چې درد صېب ځير شوے نو څۀ داسې مشاهده ئې کړې ده .

په دا وړه خبره موږ نه ټول جهان خفه د ے

موږ چې دا غواړو چې په هر څۀ دې قدغن نۀ لګي (۱۷)

د حالاتو د ويرې په سبب چې کله هر باشعوره انسان او فنکار خاموش شي نو په دې حال کښې په سبا مئين او په شور مئين انسان او فنکار په دې وئيلو هم مجبوره شي چې -

دا د کوم يو دېوتا راج د ے د سرو په ښاريه کښې

چې خاموشه خاموشي ده د ژوندو په ښاريه کښې (۱۸)

په نوو اقدارو ،افکارو د پابنديو خلاف چې چا هم اواز پورته کړے د ے او د ښۀ ژوند او بدلون خبره کړې ده . د داسې کسانو په مرۍ مونږه چړې راکښلې دي نو هغه خلق مونږ انجام ته رسولي دي.درد د ټولنې په دغه جهالت طنز کړے د ے.

چې لږ د کار وي هغه سر تر داره ورسوو

مونږ درانهٔ خلق یو مونږ قدر د سرونو کوو (۱۹)

په انساني ټولنه کښې اولنۍ طبقاتي وېش د غلامۍ د دور نه پېدا شو ـ معاشره په دوو طبقاتو غلام او مالک کښې اوېشلې شوه ـ د هغې زمانې نه په جاګیردارانه معاشره کښې د سرمایه دار او مزدور طبقاتو تر مېنځ مخاصمت وجود لري - رحمت الله درد هم ټولنیز عدم مساوات ته خفه دے ـ د بنګلو په ښاریه کښې د خاورو دېوال په نظر نهٔ راتلل ، په وسائلو د یو څو کسانو قبضه ، د خوار اولس بده ورځ او نېستۍ چېویني نو د درد صبب ته خپل ژوبل احساس داسې وائي -

زهٔ یقین وکړم خو څنګه چې مې ملک کښې مساوات دے
ما د خاورو کور وه نهٔ لید د بنګلو په ښاریه کښې (۲۰)

کوزه طبقه چې کله پرمختګ کوي نو د دې زوروې طبقې د تشویش او مخاصمت ذکر رحمت الله درد صیب داسې کوي -

د زردار د تندي ګونجې له تشویش نه ډکې ښکاري
د بانډو خلق اباد شول د شیشو په ښاریه کښې (۲۱)

رحمت الله درد په روزمره ژوند کښې داسې عناصر لیدلي دي چې د نن سبا د غریب د خپلې مشاهدې حقیقت هم دے - د غریب خبره که څوک کوي نو د پاره د سیاست ئې کوي د اولس درد د سرمایه دار طبقې په محفلونو کښې پرنټ او الیکټرانک او سوشئل میډیا په موجودګۍ کښې کېږي -

د مزدور د درد خبرې په محفل کښې
څهٔ تضاد مو دے په قول او په عمل کښې (۲۲)

د ټولنې شتمن خلق چې غله کوي نو د غریب حق تلفي کېږي او چې کله د معاشري د ګوتو په شمېر خلق شته من وي نو د دوي د بې شمېره خلقو حق تلفي ئې کړې وي ـ د خپلو خواهشاتو د تکمیل د پاره برنۍ طبقه چې کله د دولت د راټولو د پاره پښې وهل شروع کړي نو د عدم تحفظ احساس د دې طبقې د مزاج او نفسیاتو برخه جوړه شي ـ د دغه طبقې لارې او ګودرې د کوزې او غریبې طبقې نه بېلې وي ،ځکه چې برنۍ طبقه د عدم تحفظ په سبب په خپله بنګله کښې شاته ور اوباسي او غریب چې د دغه زورورو د معاشي استحصال ښکار شوي وي د هغهٔ بچې ډوډۍ نه مومي -

که غلونه نهٔ دي نو دا خلق ولې
خپلو بنګلو کښې شاته ور اوباسي

رازقه ربه د روزي د پاره
میندې له کور بچي نهر اوباسي
د پنجرې ور به راته هم لرې کړي
لا څو مې پرونه د وزر اوباسي (۲۳)

انسان د خېټې د اور د مړولو د پاره که هر څومره منډې وهي خو د مرګ پیاله د غریب او شته من دواړو د پاره برحق ده. البته یو په ټولنه کښې د استوګنې معیار وي د شته من سرې بنګله او د غریب د ختې کور ، خو برنې طبقه مړے او کفن دفن هم په هغه معیار ساتي چې د کوزنې طبقې ژوند ورباندې رشک کوي -

د چا کورونه داسې وران لکه زاړهٔ قبرونه
د چا مدفن هم تاج محل لګي مدفن نهٔ لګي (۲۴)

د خانۍ او سردارۍ په ټولنه کښې ناپوهه ،خوار او د زمانې د رفتار نه وروستو پاتې او د روښانه ژوند مستقبل د لارې سره نابلده اولس د معاشرې د زورورو په ګټه وي په داسې معاشره کښې که چرته غریب یا مډل کلاس سرے څهٔ علمي او شعوري سرګرمو کښې بوخت وي نو د خانانو مفاداتي فطرت د داسې سړي وجود ته په ښهٔ نظر نهٔ ګوري او چې داسې کس ادیب وي او خبره ئې علمي او شعوري وي ، نو دا د بره طبقې د پاره نېک شګون نهٔ وي- په مروتو کښې هم د خانۍ نظام شته او درد ته به د ځان او خان د نیت په حواله څهٔ فکر اودرېدلے وي ځکه ئې علامتي ژبه کښې د بره طبقې په نیت باندې تبصره کړې ده -

د تیارې د کلي خلق له ما درد ځکه خفادي
چې زهٔ ولې د سحراو د رڼا خوبونه وینم (۲۵)

د رحمت الله درد د طبقاتي عدم مساوات په حقله سلیم راز د "د درد کلیات" په سریزه کښې رقمطراز دے-

"د هغوي ادراک او شعور دخپل اولس خوار و زاره ورځ لیدلې او محسوس کړې ده او د خپلې خاورې د بدبختۍ او بربادۍ اســباب او وجوهات ئې په ډاګه کړي او هغه د جبر تور مخونه ورته بربنډ کړي دي ـ څومره په دردمندۍ د هغوي معاشرتي شعور او حسي تجربه د حال په ژبه وائي چې :

د مشقت او د غربت د لاسه
زمونږ د کلي جونه ځواني نهٔ شوې

دې شعر نه د هغوي د طبقاتي او سياسي شعور اندازه کېدے شي، ځکه مونږ درد ژوند شاعر ګڼو د عصري شعور نمائنده بولو او دعوی کوو چې د هغوي شاعري د ژوند او د ژوند د مسلو شاعري ده ـــ د درد غزل د خپل دور په په فکري او طبقاتي فضا کښې ساه اخلي او په خپل پښتني او ثقافتي چوکاټ کښې د تهذيبي مسائلو او سماجي نفسياتو په تناظر کښې د حسن و عشق کېفيات او واردات بيانوي ، خو خپل مخصوص طرز احساس او طرز بيان چې د نورو نه مختلف او منفرد دے ځومره ښۀ وائي :

خلکو ته درده رڼاګانې وېشو
مونږ په سينې د ننه لمر ګرځوو" (۲۶)

رحمت الله په طبقاتي عدم مساوات کښې د دوو طبقو تر مېنځ د توپير کرښه د غريبۍ او توانګرۍ يا شته منۍ په مابين کښې راښکلې ده. هغه داسې چې غريب خپل غربت پېژني او د توانګرۍ د فوائدو نه هم باخبره وي. البته شته من خپل حېثيت خو پېژني او په خپل حال کښې خوش حال هم وي خو د نېستۍ او غربت يا د لوږې د احساس نه ځکه خلاص وي خو دا څيزونه ئې ليدلي نۀ وي- زما په خيال د طبقاتي او معاشي د احساس ترجماني په لاندينې شعر کښې رحمت الله درد چې په ځومره ساده لفظونو کښې کړې ده ، د دې نه زيات وضاحت که ناممکن نۀ دے خو ګران ضرور دے-

زما ماشوم هم خپل غربت پېژني
زما نه لوبو ته موټر نۀ غواړي (۲۷)

د ټولنې د لوړې طبقې د بې انصافۍ په حقله رحمت الله درد چپ نۀ دے پاتې شوے- هغوي په دې پوهه دي چې که غږ نۀ شي پورته نو دا د معاشرتي بې انصافيو علاج نۀ دے بلکې دا رويه بې انصافي ته لاره هواروي- هغوي د بې انصافۍ خلاف ټولنې ته د غږ پورته کولو ترغيب ورکړے دے-

ظلم به نور زيات شي که چپ پاتې شول
غږ ورته په کار دے خو څوک غږ نۀ کوي
سل اتيا کسان دي چې مزې کوي
نور اولس که خوار دے خو څوک غږ نۀ کوي (۲۸)

د جدید دور د شاعرانو رجحان په ترقي پسندانه فکري اړخونو کښې د طبقاتي عدم مساوات او د خېټې د غم په لور هم ډېر تلے دے۔ درد صېب دا اړخ په خپلو دوؤ رباعیاتو کښې داسې ذکر کړے دے -

تر څو به اوښکې له سترګو نینم
د خېټه ورو خوراک چې وینم
ولې به برخه ځان ته نۀ غواړم
زۀ مار خو نۀ یم چې خاورې پینم (۲۹)

او په ورپسې دغه بله رباعي کښې ئې هم د غریب د خېټې غم ژړلے دے -

دا المیه هم څۀ عجیبه ده
چې مزدورۍ ته ئې اسره ده
ورځ د اختر ده کاروبار بند
د مزدورانو نن هم روژه ده (۳۰)

د ترقي پسند رجحان یو مهم عنصر مزاحمت دے - په ادیبانو کښې ځینې عملي او فکري ډول مزاحمتي دي ، ځینې یوازې په فکري اړخ مزاحمتي دي اوځینو د خپلو نورو بنیادي افکارو سره مزاحمتي فکر ته هم څۀ نه څۀ برخه ورکړې ده -د حق غوښتنې د پاره قدم اخیستل ،د زندان هوا خوړل ،په دار ځوړندېدل د مزاحمت علامات دي۔ درد په خپله شاعري کښې دا هر څۀ په ګوته کړي دي -

پرون په موږ باندې زندان اباد وۀ
نن مو په دار باندې سرونه چګ دي
اوس که دېوال راځي که دار مخې ته
د حق په لار مو قدمونه چګ دي (۳۱)

رحمت الله درد د وعظ او تبلیغ د پاره ټولنه ته د خوشحال بابا غوندې بالواسطه نۀ دے مخاطب شوے او نۀ ئې د جدید دور د مزاحمتي مترقي شاعرانو لهجه کارولې ده البته د مزاحمت نه وروستو شوے هم نۀ دے بلکې د مزاحمت د پاره ئې بلاواسطه اسلوب ئې خپل کړے دے –

تر پرون به چې د دار په سر کېدلې
نن هغه خبرې کېږي په غزل کښې (۳۲)

په خوار اولس باندې چې کله د يوکس د پاره
ستم جائز ظلم روا شي زۀ غزل اوليکم (۳۳)

د محل د پرسکونه ماحول طاقتونو چې کله په سرباندې خېژي بيا ورته د مزاحمت بېرغ خوځوي -

د جونګړې ژوند دې نۀ تريخوي درده
پرسکون که اوسېدل غواړې محفل کښې (۳۴)

د داسې ټولنيز طاقتونو چې د خپل مفاد د پاره ټولنه په تيارو کښې ساتي او د دې مرام د پاره د هر اواز اوچتوونکي خوله بندوي خو رحمت الله درد د دوي په دام کښې نۀ راځي -

اوس مې که دار ته خېژوي که مې زندان ته سپاري
مانه پوره نۀ ده چې وکړم د تيارو ملګري (۳۵)

شاهي فطرته قوتونو په هر دور کښې اولس د محب الوطني په نامه غولولے دے او هر هغه کس چې په قام او خوار اولس باندې ئې زړۀ خوږولے دے ، دې طاقتونو د غدارۍ په سند لمانځلے دے ـ دا دهر دور د مشاهدې خبره ده چې په داسې ماحول کښې ټولنيز غړونه د مصلحت په خاطر خاموشه شوي دي رحمت الله درد په شعري لهجه کښې د داسې ټولنيز د شاعرۍ هتيار د مزاحمت په توګه د استعمالولو زيار کړے دے -

خلق داسې خلقو ته چې ولې غداران وائي
چا چې د خپل قام د ازادۍ خبره کړې ده
کله چې په خولو د مصلحت مهرونه ولګي
داسې وخت کښې درده شاعري خبره کړې ده(۳۶)

امن په نړۍ کښې د هر ذي روح ضرورت او حق دے امن د يو داسې کېفيت او حالت نوم دے چې فرد په کښې په خوشحالۍ ، ترقۍ ، سکون او اطمينان سره ژوند تېروي ـ معاشره په کښې د څۀ قسمه اړۍ ګړۍ ، ناقلارۍ او بې ارامۍ سره مخ نۀ وي ـ د وجود سره سره روح او ذهن هم په ارام او سکون وي - رحمت الله درد د نائن اليون د اثراتو په تناظر د پښتنې خاورې حال داسې بيان کړے -

خدا ے زده چې بيا د شېخ بدين زرکان چړچکې وهي
هم د شوال د دنګو غرونو ښاپېرۍ ورکه ده (۳۷)

درد د رومان نه تر حقيقت نګارۍ او ټولنيزو نيمګړتياو سره انسان دوستۍ او جنګي جنونيت هم په ګوته کړے دے - د رياستي پالېسيو تر مخه چې کله جنګ د ګټې د کاروبار د پاره

وکړے شي نو په ټولنه کښې د عام وګړي ژوند تريخ شي - پښتنه سيمه همېشه د پراجېکټ بېس جنګونو مورچل پاتې شوې ده او د دې جنګونو زور په غره په سمه د پښتنو هر يو ښار کلي او محلت ته رسېدلے دے - پښتون مينه ناک قام دے ، ښۀ خاطر او رواداري د دوي خاصه ده ، خو د دوي وطن د بين الاقوامي قوتونو د سياست محور ګرځېدلے دے - په پښتو شاعري کښې سپرلے د امن علامت په توګه ډېر کارولے شو - رحمت الله درد د وطن د امنيت او سپرلي خبره داسې کوي:

زما وطنه د سپرلو وطن ئې

که له چکره د سياست اووتې (38)

د پښتونخوا په کلي والو سيمو کښې که د رياستي پاليسيو زېر اثر که امن وي او يا نه ،خو دا د نيمې شپې د غلو او ډاکو پېښې په هر دور کښې پېښېږي اګر که اوس د کلي په نسبت په ښارونو کښې دا وبا د بېروزګارۍ او معاشي صورتحال په سبب نوره هم زياته شوې ده -

دغ اطمينان په غلونو ولوټلم

چې مو د غولي دېوالونه چګ دي (۳۹)

په جديده پښتو شاعري د ثور انقلاب او نائن اليون ژورې آغېزې شوې دي د لوټ کابل ذکر اکثره شاعرانو کړے دے - په جنګي ماحول کښې د پښتنو د کورونو د لوټلو رواج څۀ نوې نۀ دے - رحمت الله درد دغه خيال ثومره په مبهم ډول او خوندور ډول بيان کړے دے -

په دې بازار کښې واړه مال د ولايت خرڅېږي

خو زۀ چې ثومره ائينې ګورم ړندې راوځي (۴۰)

د افغانستان حالاتو د دوي په شاعرۍ ژور اثر کړے دے - د جګړې په نتيجه کښې ئې په ټوله پښتونخوا کښې انتشار،ويره ترهه خوره شوې ده - په زرګونو پښتانۀ د دهماکو او بارودو الوپه شول - مرګونه ، د پښتنو ورونو ، زامنو ورکېدل ، دهماکې، هدفي وژنې يو معمول جوړ شوے - د کډوالۍ د ژوند سره د ترهه ګرۍ او غدارۍ تورونه هم په دوي ولګېدل - جنازې ، بورې ، کونډې ، يتيمان د دوي په برخه وګرځېدل ، وروستو د بره پښتونخوه سره په لره پښتونخوا کښې هم ډېر پښتانۀ اغېزمن شول - د دې حالاتو نه هر پښتون اديب او شاعر متاثره شوے دے - د رحمت الله درد ترقي پسند اپروچ هم د دغه دور د حالاتو فني تصوير محفوظ کړے دے - (۴۱)

چې په حالاتو ئې وس نۀ رسي خبر دې نۀ شي

درد څۀ بې غمه د بارودو په امبار ولاړ دے

اخر زما تر کور راورسېدو

زۀ مطمئن وم چې بهر لوګے دے
په دې لمبه لمبه ماحول کښې دردره
غزل مې رنګ د رومان نۀ قبلوي
مارغان والوتل له جالو تاڼ په تاڼ شول
چې ماحول واړه لوګے شو شجر وچ شو (۴۲)

درد صیب د لنډ بحر په غزل کښې د ریاستي ظلم د امن و امان کړکېچن تصویر په لاندیني ډول اخیستے دے۔

دا د چا حکمراني ده د سرونو ارزاني ده
د سکون دولت نایاب دے د پیسې فراواني ده
هم زما په سر غوبل دے هم زما په سر خاني ده (۴۳)

پروفېسر اسیر منګل وائي چې د چاپېرچل په بل اورونو او د زبېرګو په ماحول کښې که ډېره روماني فضا هم وي خو غزل ئې نۀ قبلوي ځکه چې د شاعر خارجیت ته پام شي - خو د درد په غزل کښې هم هغه روایتي خواږۀ نۀ محسوسېږي. ترخو حالاتو دا احساسات تراخۀ کړي دي. د محبوب د ښائست نغمه ګرچې د غزل نه ئې هغه خواږۀ ځاځي چې د مینې او محبت خاصه بللے شي - خو اوس چې درد د کلي محلت ژوند ویني - نو لهجه کښې ئې د خوږوالي په ځاے تریخوالے راځي - خوبیا هم درد صیب غزل د مایوسۍ سورے ته نۀ اودروي ځکه چې درد په داسې حالاتو کښې د امید او رجا قائل دے . هغوي په دې پوهه دي چې تریخ ژوند د ظلم تورې تیارې ، لوګیدلے چاپېرچل دا هر څۀ د ژوند سره تړلي دي- (۴۴)

د نائن الیون د واقعې نه وروستو د کوزې او بره پښتونخوا یو ښار به داسې نۀ وي چې د دهماکو درزونه ئې نۀ وي اروېدلي او د خودکش بریدونو ، بمي چاودنو ، هدفي وژنو او د تره ګرۍ د پېښو نه په امان پاتې وي-

کله به دا وچ زړونه له ډېره درده وچوي
څومره غېر محفوظ یو د بمونو ښار کښې اوسو (۴۵)

د دې سیمې د بدو ورځو سندره هر پښتون فنکار زمزمه کړې ده او شعر ئې د دې جنګي اغېزو نه زورېدلے او متاثره شوے هم دے - هر زوړ ، ځوان ، پخوانے ، اوسنے ،روماني ، روایت پسند او ترقي پسند ادیب د پښتنو په سیمه هغه کردارونه غندلي دي څوک چې په دې خاوره کښې د امن د صورتحال د خرابولو سبب ګرځېدلے دے - رحمت الله درد صیب هم په دې هکله پته خولۀ

نۀ دے پاتے شوے او په مختلفو زاويو ئې سوالونه راپورته کړې دي. د قامي درد او پرېشانۍ تپوس ئې په ډاګه کړے دے .د شعري اشارو ، کنايو او علامتونو په ځاي ئې خپل اهدافو ته په واضحه ډول اشارې کړې دي.

زمونږ د نن خوا خوږي مونږ ته با سبا ولې وژني
که سباؤن راولوي نو رڼا ولې وژني
که دښمن نۀ دے نو هر کار په پټه ولې کوي
که مو همدرد دے په رښتيا نو رښتيا ولې وژني
څۀ به حاصل کړي که دنيا واړه نفرت نفرت شي
محبت ولې قتلوي او وفا ولې وژني
له لوپټو نه له دستار نه چاته څۀ خطره ده
پښتو مو ولې شرموي او حيا ولې وژني (۴۶)

سرے چې د درد شاعري څيړي نو د امن خبره ئې ځاے په ځاے په مختلفوپېرايو کښې کړې ده. د ګل وطن د پخوانوسپرلو ذکر او د لمبه او خزان چاپېرچل په ياد کښې ئې زاړۀ روماني يادونه تازه کړي دي. د پرله پسې جنګ او آپرېشنونو نه وروستو د پښتونخوا په هر ګټ کښې په ښارونو او غرونو کښې د نو ګو ايرياز او په لارو اوسړکونو د ناکه بندۍ نه عام خلق تر پوزې رسېدلي دي. درد په شاعرۍ کښې د دې فوځي عملياتو " کہاں سے آرہے ہو کہاں جارہے ہو" عکاسي هم کړې ده.

نۀ کړنګ د پېمانو شته نۀ هاهو د مېخوارانو
ساقي له تانه ځار شم مېخانې خو داسې نۀ وې
دا ولې په هر ګټ کښې زنداني غوندې فضا ده
اې درده د وطن لارې کوڅې خو داسې نۀ وې (۴۷)

د امن په نوم په قبائلي سيمو کښې د جنګي اپرېشنونو نه وروستو د خلقو سماجي ژوند ډېر متاثره شو. د هجرتونو سلسله روانه شوه ، هر سړے د ذهني کوفت سره مخامخ شو، رياست د امن په نوم يو داسې ماحول جوړ کړے وۀ چې د پښتو نه ډک پټ کورونه پاتې شول او د رياست نورو مېداني سيمو ته وۀ لېږدېدل. د پښتنو په ابادو کلو او بانډو کښې د غرونو ځناورو د کورنو ځناورو ښکار کولو، د پښتنو نه پاتې ډک پټ کورونو ته د ورانېدو او لوټ تالانېدو نه وروستو اور ورکړے شو.دغه رياستي جنګي عملياتو د پښتنو په سيمو سماجي کلتوري اثرات

پرېښودل - رحمت الله درد د دې جنګي اثراتو نقشه په دې ډول راښکلې ده -

د پښتنو له چوک مجلس ورک دے کیسۍ ورکه ده
نۀ ادم خان شته نۀ مېرو شته درخانۍ ورکه ده
خدائزده چې بیا د شېخ بدین زرکان چرچکې وهي
هم د شوال د دنګو غرونو ښاپېرۍ ورکه ده
اوس مو د کلي په کوڅو کښې بلا ګانې ګرځي
له چانه کور ورک دے له چا د کور ګلۍ ورکه ده (۴۸)

که چرته د رحمت الله درد فن ته د ترقي پسندۍ او انقلابیت په نظر وګورو نو هسې په مجموعي توګه درد د فن ملګرتیا کړې ده د هر قسم سیاسي پروپېګنډې نه ئې ځان ساتلے دے البته د انقلاب عمل ته د لارې او ګودرې د برابرولو په حقله د دۀ په شاعرۍ کښې هم ډېر عناصر په نظر راځي چې د دۀ د ترقي پسند او انقلابي فکر وکالت کوي-

په دا وړه خبره موږ نه ټول جهان خفه دے
موږ چې دا وایو چې په هر څۀ دې قدغن نۀ لګي (۴۹)

ریاست په کفري نظام باندې خو قایم پاتې کېدے شي البته د ظلم او جبر نظام د ریاستي نظام د پاره د انقلاب لارې هواروي-

چې د یزید په سر ئې تاج ولیدۀ
چیغې له کور د شهادت اووتې (50)

کله چې د ریاستي واکدارونو ذاتي عیاشي او د اولس تکلیفونو ، نېستۍ ته ګوري نو ټولنې ته د انقلابي اقداماتو او فکر ترغیب ورکوي-

دا مو کوم خلق د چمن واکمن کړل
موږ ته ازغي ځان ته ګلونه غواړي
تش په نعرو انقلاب کله راځي
پاس په نېزو یو څو سرونه غواړي (۵۱)

د رحمت الله درد د انقلابیت په تناظر کښې چراغ حسین شاه درد صېب د یو حساس شاعر په توګه وړاندے کړے دے چې د خپل چاپېرچل نه بې نیازه نۀ شي کېدے .خالص روماني شاعر هم کله کله د ټولنیز کړۀ وړۀ نه اثر واخلي او د انقلابي فکر څښتن شي ـ د خلقو تر مېنځ او د شور وغوغا په ماحول کښې د داد او شاباشي په لور مائل شي ـــ د رحمت الله درد صیب د ځینو

غزلیاتو ډکشـــن او ســـاز ملي ترانو ته ورپورې دے - د دې نه دا اندازه کېږي چې د نوو اور ژبو شاعرانو باد وربانديې لګېدلے دے - (۵۲)

"د آزادئ د پړاوونو ډېوې بلې لره
په سر د دار هم د سرونو ډېوې بلې لره " (۵۳)

# حوالې


(1) انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، اشاعت ششم، فروری 2020، ص 70،69۔

(2) وزیر ، محب ،پښتو جدیده شاعري کښې سیاسي شعور، مخ ۱۵۲۔

(3) حنیف خلیل ، علم وفن ، یونیورسټي پبلشرز پشاور ۲۰۲۲ء، مخ ۲۲۶ .

(4) ډاکټر حنیف خلیل و ډاکټر شهاب عزیز ارمان، ادب کور، دوېمه برخه، آفاق پرنټرز محله جنګي پېښور، دسمبر 2023، مخ ۲۲۶۔

(5) درد رحمت الله، پروفېسر، وفا ، دانش خپرندویه ټولنه، دوېم چاپ ، اکتوبر ۲۰۱۰، مخ ۶۔

(6) عمر ګل عسکر ، د پروفېسر رحمت الله درد په یاد کښې (مضمون) ، سلسله ۲۰ ، شېخ بدین، د پروفېسر رحمت الله درد (مرحوم) نمبر (تختي خېل پښتو ادبي ټولنه ضلع لکي مروت ،اکتوبر ۲۰۱۸ء، مخ ۲۲۔

(7) نعیم آذاد ، په غزل کښې درد که درد په غزل کښې (مضمون)، سلسله ۲۰ ، شېخ بدین، د پروفېسر رحمت الله درد (مرحوم) نمبر (تختي خېل پښتو ادبي ټولنه ضلع لکي مروت ،اکتوبر ۲۰۱۸ء، مخ ۵۴

(8) رحمت الله درد ، پروفېسر، غزل ،شپږم اېډیشن، جنوري ۲۰۱۱ء، مخ ۳۷ -

(9) هم دغه، مخ ۳۰۔

(10) هم دغه ، مخ ۹۱۔

(11) رحمت الله درد ، پروفېسر، درد ،دانش کتاب پلورنځی پېښور، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۱۲۳ -

(12) رحمت الله ، درد ، پروفېسر ، غزل ، مخ ۷۸۔

(13) هم دغه ، مخ ۸۶۔

(14) رحمت الله ، درد ، د درد کلیات ، (سیریزه، سلیم راز) ،عمر دراز مروت ، پښتو ادبي ټولنه ،تختي خېل، ضلع لکي مروت،مئي ۲۰۱۳ء ، مخ ج -

(15) رحمت الله درد ، پروفېسر ، درد ، دانش کتاب پلورنځی پېښور، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۱۶۔

(16) وزیر ، محب ،پښتو جدیده شاعري کښې سیاسي شعور، ناچاپ ، مخ ۱۵۲۔

(17) رحمت الله درد ، پروفېسر، غزل ،شپږم اېډیشن، جنوري ۲۰۱۱ء، مخ ۳۷۔

(18) هم دغه ، مخ ۳۷۔

(19) هم دغه ، مخ ۱۰۴-
(20) هم دغه ، مخ ۳۷-
(21) هم دغه
(22) هم دغه ، مخ ۴۹-
(23) هم دغه ، مخ ۳۰-
(24) هم دغه -
(25) هم دغه ، مخ ۹۷-
(26) هم دغه -
(27) درد ، رحمت الله ، ویال سرے ، تختي خېل پښتو ادبي ټولنه لکي مروت، ستمبر ۲۰۱۱، مخ ۷۸.
(28) رحمت الله درد ، پروفېسر ، غزل ،شپږم اېډیشن، مخ ۱۳۲-
(29) هم دغه،مخ153-
(30) هم دغه -
(31) هم دغه ۴۲-
(32) هم دغه ۴۹ -
(33) درد ،رحمت الله،پروفېسر ، وفا ،دانش خپرندویه ټولنه،دوېم چاپ،اکتوبر ۲۰۱۰ ،مخ ۹۸-
(34) رحمت الله درد ، پروفېسر ، غزل ،شپږم اېډیشن،مخ۴۹-
(35) هم دغه ، مخ ۹۱-
(36) هم دغه ، مخ ۹۴
(37) رحمت الله، د درد کلیات ،عمر دراز مروت، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۳ء، مخ ۳۲۵-
(38) رحمت الله درد ، پروفېسر ، غزل ،شپږم اېډیشن، ۹۵ -
(39) هم دغه ، مخ ۴۲-
(40) هم دغه ، مخ ۱۴۹ -
**(41)** مروت، احمد جان احمد ، د درد شاعرانه اسلوب (مضمون) ،مشموله ، لیکنې ،پښتو اکېډمي بلوچستان کوئټه،جولائي دسمبر ۲۰۲۲ ، ص ۲۱۵ ،۲۱۴ ،۲۱۰ .
(42) هم دغه ، مخ 214-

(43) رحمت الله درد ، پروفېسر، درد ،دانش کتاب پلورنځۍ پېښور، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۱۶-

(44) اسير منګل،پروفيسر، د درد دردناک غزل (مضمون)،سلسله۲۰ ، شېخ بدين، د پروفېسر رحمت الله درد (مرحوم) نمبر (تختي خېل پښتو ادبي ټولنه ضلع لکي مروت،اکتوبر ۲۰۱۸ء، مخ ۳۱-

(45) رحمت الله ، درد ، پروفېسر، غزل ،شپږم اېډيشن، مخ ۳۳-

(46) هم دغه ، مخ -

(47) هم دغه ، مخ ۹۳ -

(48) درد ، رحمت الله ، د درد کليات، دانش خپرندويه ټولنه پېښور ، ۲۰۱۳ء ،مخ ۳۲۵-

(49) رحمت الله ، درد ، پروفېسر، غزل ، مخ ۳۰-

(50) هم دغه ، مخ ۹۵-

(51) هم دغه ، مخ ۵۵-

(52) چراغ حسېن شاه ، مضمون ، د مروتو غزل خوان ، پلوشه کراچي ، مدير عبدالفتح پښتون ، مئي ۱۹۹۳ء، مخ ندارد-

(53) هم دغه

## References

(1) Anwar Jamal, professor, Adabi istelahat, edition sixth, Febuery 2020, page, 69, 70.
(2) Wazir, Moheb, Pakhto jadeda shaiari ke seyasi shaghor, page 152.
(3) Hanef, Khalil, ilam wa fun, University publishers Peshawar, 2022, page 226.
(4) Dr: Hanef Khalil, Dr: Shahab Aziz Arman, Adab kor, vol 2, Afaq printers, mahala jangi, pekhwar , December 2023, Page 226.
(5) Dard, Rehmatullah, professor, Wafa, Danish khparandoya tolana Pekhawar, Second edition, October 2010, page 6.
(6) Askar,Omer Gul, Da professor Rehmatullah Dard pa yad ke, (mazmon) silsila 20, shaikh baden, da professor Rehmat ullah dard no,(marhom) number, takhti khel pakhto adabi tolana,October 2018, page 22.
(7) Naeem azad, pa ghazal ke dard ka (mazmon) silsila 20, shaikh baden, da professor Rehmat ullah dard no,(marhom)number, takhti khel pakhto adabi tolana,October 2018, page54.
(8) Rehmatullah, dard, professor, Ghazal, sixth edition, January 2011, page 37.
(9) Ham dagha, page 30.
(10) Ham dagha, page 91.
(11) Rehmatullah, Dard, professor, Dard, Danish kitab ploranzai pekhwar, September, 2005, page 123.
(12) Rehmatullah, dard, professor, ghazal, page 78.
(13) Ham dagha, makh 86.
(14) Rehmatullah, dard, da dard kuliat (sereza, salem raz), Omer daraz marwat, may 2013, page jeem.
(15) Rehmat ullah, dard, professor, dard, Danish ketab ploranzai pekhawar, September 2005, page 16.
(16) Wazir, Moheb, Pakhto jadeda shaiari ke seyasi shaghor, page 152.
(17) Rehmatullah, dard, professor, Ghazal, sixth edition, January 2011, page 37.
(18) Ham gagha, makh 37.
(19) Ham dagha, makh 104.
(20) Ham dagha, makh 37.
(21) Ham dagha.
(22) Ham dagha makh 49.
(23) Ham dagha, makh 30.
(24) Ham dagha.
(25) Ham dagha, makh 97.
(26) Ham dagha.
(27) Dard, rehmat ullah, weial sare, takhti khel pakhto adabi tolana lucky marwat, September 2011, makh 78.

(28) Rehmatullah, dard, professor, ghazal, sixth edition, makh 132.
(29) Ham dagha, makh 153.
(30) Ham dagha.
(31) Ham dagha, makh 42.
(32) Ham dagha, makh, makh 49.
(33) Dard, rehmat ullah professor, wafa, Danesh khparandoya tolana, second edition, October 2010, makh 98.
(34) Rehmatullah Dard, professor, ghazal, sixth edition, makh 49.
(35) Ham dagha, makh 91.
(36) Ham dagha, makh 94.
(37) Rehmatullah, dard, da dard kulyat, Omer daraz marwat, may 2013, page 325.
(38) Rehmatullah, dard, ghazal, sixth edition, makh 95.
(39) Ham dagha, makh 42.
(40) Ham dagha, makh 149.
(41) Marwat, ahmad jan ahmad, da dard shaiarana aslob (mazmon), mashmola, lekanay , pakhto academy, balochistan quoitta, julay December, 2022, page ,210, 214,215.
(42) Ham dagha, makh 214.
(43) Rehmatullah dard, professor, dard, Danish kitab ploranzai pekhawar, September 2005, makh 16.
(44) Aseer mangal, professor, da dard dardnak ghazal (mazmon) silsila 20, shaikh baden, da professor Rehmat ullah dard no,(marhom)number, takhti khel pakhto adabi tolana,October 2018, page31.
(45) Rehmatullah, dard, ghazal, sixth edition, makh 33.
(46) Ham dagha makh.
(47) Ham dagha, makh 93.
(48) Dard, rehmat ullah, da dard kulyat, Omer daraz marwat, may 2013, page 33.
(49) Dard, Rehmatullah, professor, ghazal, makh 30.
(50) Ham dagha, makh 95.
(51) Ham dagha, makh 55.
(52) Charagh Hussain sha , da marwato ghazal khawan (mazmon), palwasha Karachi , Abdul fatah pakhton, makh nedarad.
(53) Ham dagha